استقلال www.esteqlaal.net خپلواکي
anwari@netzero.com

لیکنه؛ نورالحق حیدر شنبه ۰۳ مارچ ۲۰۱۸

# پر اېس ریاست کتاب د «ځلاند» تاریک نظر




فیض محمد ځلاند پر «اېس ریاست» کتاب یوه اوږده «دوه زره او څو سوه کلمې» لیکنه کړې. د ده په لیکنه کې د کتاب خبرې تحریف شوې دي. تر نورو یې زه ور تېر، خو یوه خبره یې اصلاً د کتاب له محتوا سره اور اوبه ده.

ده د توطیې تیوري پر اساس خبره کړې ده، وایي؛ «امریکا د اسامه وژل پر افغانستان د یرغل لپاره یوازې یوه بهانه ګرځولې وه.» دې خبرې ته یې له کتاب څخه دوه دلایل را ایستلي دي. د کتاب په ۶۹مخ کې ویل شوي، ملا عمر ته اسامه قسم کړی و چې د سپټمبر یوولسمې په پېښو کې هیڅ لاس نه لري. ځلاند یوه دا خبره دلیل کړې.

اول خو دا خبره نوې نه ده چې یوازې «سټیف کول» دې لیکلې وي. په همدې ۶۵ مخ کې لیکل شوي چې د سپټمبر په ۲۳مه طالبانو په یوه سرمقاله کې لیکلي وو؛ اسامه د طالبانو د اسلامي دولت د راپرځولو لپاره امریکا ته مازې یوه بهانه ده، دوی استعماري اهداف لري.

تر کتاب ور اخوا د دې خبرې ډېر ګردان د ملا ضعیف او رحیم الله یوسفزي پر ژبو وینتان را خېژولي دي، خو موږ ولې د ملا عمر دریځ چې د اسامه د قسم خوړلو له مخې یې نیولی، د عقلانیت په تله نه تلو!؟ په تېره بیا دا چې لا میاشت پوره نه وه تېره شوې چې اسامه د سپټمبر د یوولسمې پېښو د کولو ادعا وکړه. (۱۰۲ مخ)

که د واقعیت لیدو ته مو سترګې ړندې نه وي، واقعیت خو دا دی چې موږ د ملا صاحب سرټېمګۍ د امریکا د جګړې اور ته ور وغورځولو. په کتاب کې دوو عاقل، بالغ او مسلمانانو د ملا عمر د سرټمبګۍ ګواهي ورکړې ده. د کتاب په ۶۹ مخ کې د ملا یو کلیوال «حاجي بشر نورزی» چې د طالبانو له امارت سره یې د وسلو او پیسو په انتقال کې مرسته کوله، د طالبانو امیر د یکي یوې ځانګړنې خاوند بولي؛ سرټمبګي.

بل کس جنرال پرویز مشرف دی. «سټیف کول» د پرویز مشرف د کتاب په حواله لیکلي؛ «ملا عمر یو سر ټمبه انسان دی، د نړیوال سیاست په الفبا لا نه پوهېږي، د طالبانو امیر ته خبره کول هسې دېوال ته خبرې کول دي.» (۵۶ مخ)

په دې کتاب کې ما ته دا نوې خبره وه چې پاکستان د امریکا له غضبه د طالبانو د بچ کولو هلې ځلې کړې دي. په‌دې لړ کې د سپټمبر پر اوولسمه (۲۰۰۱) د ای اېس ای ریس «جنرال محمود احمد» او ملا عمر څلور ساعته په کندهار کې سره ناست وو. جنرال د امریکا د غوښتنو غټ ټکي ملا عمر ته واورول؛

اسامه او د القاعده شبکې پنځلس-شل نور غړي باید د محکمې مېز ته را ښکل شي او یا له افغانستانه وشړل شي. طالبان باید په افغانستان کې د القاعده شبکې ټول روزنیز مرکزونه وتړي.

د طالبانو مشر خبره نه یووړه نه یې راوړه، و یې ویل چې نومي کافر ته اسامه بن لادن نه سپاري. د ای اېس ای ریس د طالبانو مشر پر دې مسأله فقهي استدلال کولو ته را وباله، ده ملا عمر ته وویل چې لمونځ پر مسلمانانو فرض دی چې ان د مرګ په بستره کې پروت کس به یې نه قضا کوي. ملا عمر یې خبره تایید کړه.

جنرال محمود ملا عمر وپوښت؛

ـ خو که یو څوک پر لمانځه ولاړ وي او مار یې خوا ته را شي، څه به کوي؟

ملا عمر وویل؛

ـ لمونځ به پرېږدي، مار به وژني او بېرته به خپل لمونځ ته راګرځي.

د ای اېس ای ریس ور ته کړه؛

ـ نو ته دا لوی ښامار نه وینې چې هېواد ته دې را روان دی؟

د جنرال اشاره امریکا ته وه. ده ملا عمر ته وویل؛ تا سوګند یاد کړی چې د ۲۵ میلیونه افغانانو امیر المؤمنین یې، د دې خلکو ساتنه ډېر مقدس کار دی که د اسامه مېلمه‌پالنه!؟

وایي چې له دې خبرې سره د ملا عمر سر وځړېد، څو شېبې یې چورت وواهه، تر چورت وروسته یې د ای اېس ای ریس ته وویل چې سبا په کابل کې د علماوو شورا غونډه کوي او دی دې خپله پوښتنه له هغوی څخه وکړي. په سبا یې په کابل کې د طالبانو د علماوو شورا خپله پرېکړه په یوه اعلامیه کې اعلان کړه. په

اعلامیه کې ویل شوي وو، اسامه که په خپله خوښه او په خپل زړه له افغانستانه وځي، وتلای شي. (۶۰-۶۱ مخونه)
د دې کیسې په لوستلو سره باید ځلاند صاحب له شرمه په خولو کې پټ شوی وای؛ ځکه ملا عمر ښامار نه لیده، تر ملا صاحب د ای اېس ای ریس د «شر قلیل» او «خیر کثیر» په تفکیک ښه پوهېده. نه پوهېږم دی پر دې کیسه ولې پټې سترګې تېر شوی دی!؟
د ځلاند بل دلیل دا دی چې (C.I.A.) تر جګړې مخکې پنجشېر ته یو ټیم را لېږلی و او له ټلوالې سره په ګډه یې جګړه پلانوله. ځلاند دا خبره سمه را اخیستې، خو د ده لکه چې پام نه دی چې د یو نړیوال زبر ځواک پر حیثیت ګوزار شوی و، امریکا ټپي شوي مار ته پاتې کېده، خو د ځلاند غوندې کسانو تمه دا ده چې امریکا باید طالبانو ته تر ګل نازکه خبره هم لا نه وای کړې. د طالبانو تر پورتني اعلان وروسته به امریکا څه کول!؟
ځلاند له پاکستان څخه پېدې مانیجن ښکاري چې د ده په خبره له امریکا سره یې د افغانستان په اشغال کې مرسته وکړه. خو له کتاب څخه دا په ډاګه معلومېږي کله چې طالبانو د پاکستان خبره و نه منله، نو پاکستاني چارواکیو عقلاني سیاست وکړ، دوی خپلې غوښتنې د امریکا له غوښتنو سره برابرې کړې. ان په امریکا یې ومنله چې په افغانستان کې به پاکستان پلوی حکومت وي او په کشمیر کې چې پاکستان څه کوي، دا به د ترورېزم پر ضد جګړې له تعریفه بهر وي. کاشکې ملا صاحب او طالبانو د دې په نیمایي عقلاني سیاست کړی وای. کاشکې یې د امریکا پښې یې ګران افغانستان ته نه وای را کش کړې. د امریکا استخباراتو پر افغانانو داسې ظلمونه وکړل چې پر لوستلو یې د سړي په مرۍ کې ساه خپه شي. په کتاب کې د همدې ناکړدو په کیسو کې یوه یې د کونړ د اوسېدونکي «عبدالولي» کیسه ده چې ځلاند صاحب یې درې ځلې نوم محمد ولي لیکلی دی. دی د (C.I.A.) شکنجو دومره وځوراوه چې له امریکایانو یې نور د مرګ خیرات غوښت. د ده غوندې ډېر نور د امریکا تر شکنجو لاندې مړه شول، خو ملا صاحب کلونه وروسته د شفاخانې په نرم چپرکټ کې پښې وغځولې.
ځلاند صاحب د کتاب په ۶۸۷ مخونو کې د لیکوال شخصي تحلیل نه دی موندلی، ټول کتاب ده ته د معلوماتو غورچاڼ ښکاره شوی. د ځلاند صاحب له دې قضاوت سره سړي ته شک ور ولوېږي چې اصلاً پر کتاب به د ده سر نه وي خلاص شوی. «اېس ریاست» د تحقیقي ژورنالېزم یوه اعلی بېلګه ده او لکه کیسه داسې لیکل شوی دی. په ژورنالیزم کې تحقیقي راپورونه اکثراً په حکایتي سبک لیکي او «ستیف کول» چې دوې لسیزې په واشنګټن پوست غوندې نړیواله ورځپانه کې یې کار کړی، طبعاً به یې کتاب همداسې لیکلای.

زه چې وایم پر کتاب یې سر نه دی خلاص نو هسې یې نه وایم، د کتاب په ۲۰۶ مخ کې په بګرام کې یو امریکایي د (NAVAL WAR COLLEGE) د نظامي تاریخ استاد «ډوګلاس پورچ» ته د مبالغې په شکل وايي؛ «یره، ځینې کسان یې مازې په دې بندیان کړي چې نوي بوټان یې په پښو کړي وو.» د مقالې اوږدېدو خبره ده، که نه نو دا ټوله کیسه به مې همدلته کړې وه، خو ځلاند صاحب ته دا مبالغه بیا «تریخ حقیقت» ښکاره شوی دی.

د کتابونو دغسې تحریف د روان افراطیت تبر ته لاستي ور اچول دي، خلک دې دا کتاب ولولي، خو لکه د ځلاند په ړندو سترګو دې یې نه لولي. په دې کتاب کې ځینې خبرې د ډاکټر سپنتا له کتاب سره په تضاد کې دي، ځینې یې غلطې دي او مهمه دا چې د طالبانو غورځنګ پکې یو پښتون نشلسټ غورځنګ یاد شوی او اکثریت پښتانه پکې د (I.S.I) ځېرهخواره معرفي شوي دي، کاشکې یې دغه خبرې څوک سپینې کړي.

گرفته شده از سایت: تاند